STADT MÜNSTER

Amt für Schule und Weiterbildung

# Schulpsychologische Beratungsstelle

## په ښوونځی کي ستونزی؟
## په ګډه به د حل لاره و مو مو.



Paschtu

## په ښوونځی کي ستونزی؟

ځیني وختونه ماشومان او ځوانان داسي احساس کوی، چه په ښوونځی کی ښه نه دی او ستونزی لري.

**د بیلګي په توګه:**

- هغوی ویره لري.
- زده کړی د هغوی لپاره ستونزمني وي.
- هغوی پام نه شي کولای او یا یې توجه بل لوری ته وي.
- هغوی د خپل ټولګی والو سره ستونزی لري.
- هغوی له معلیمینو سره ستونزی لري.
- هغوی نه غواړی، چي نور ښوونځی ته ولاړ شي.
- د کورني کارونو سره ستونزی لري.
- هغوی غواړي ښوونځی بدله کړي.

په داسي او یا ورته حالتونو کي » د روانشناسي سلا مشوري مرکز« مرسته کولای شي.
او هم د ښووځی او والدینو تر منځ ستونزو کي مرسته کولای شي.



## روانشناسان په ښوونځی کي څه شي کوي؟

د سلا مشوري په مرکز کي موږ یو ټیم یو، چي هلته تقریباً ۲۰ ښځینه او نارینه روانشناسان شته. موږ له ماشومانو، ځوانانو، والدینو، معلمینو او کار کونکو سره کار کوو. موږ هغوی ته سلا مشوره ور کوو او له هغوی سره کار کوو، تر څو ستونزی حل کړي. موږ دا کارونه د سلا مشوري په مرکز کی او هم په ښوونځی کي کوو.

له بهر نه په کتو سره، موږ یوه بې پری نظر اندازی کوو. موږ د اړخونو ګوناګون نظرونه اورو، غواړو چي پوه شو او هغوی سره یو کړو. موږ خپله بی طرفی د ټولو په منځ کي ساتو.

نښه داده، چي د کورنیو، ښوونځیو اوماشومانو اهلیت او پیاوړ تیا بیا فعال کړو.

موږ په ګډه یوه د حل لاره لټوو په دي موخه، چي د ماشوم او ځوان حالت بیا ښه شي.

**هغه څه چي موږ یي نه کوو**

موږ د ښوونځی په سیستم کي تصمیم نه شوه نیولای، د بیلګي په توګه د ښوونځی یا ټولګی په بدلولو کي، او یا د خاص زده کړی د پر مخ تګ په اړه.





## محرم، وړیا او رضاکارانه

موږ په محرم ساتلو مکلف یو. د مور او پلار له اجازې پرته موږ اجازه نه لرو، بل کس ته معلومات ور کړو. که یې سر پرست اجازه هم ورکړي، بیا هم موږ له ښوونځی سره اړیکي نیسو. دا کړنه له دفترونو، موسسو، ډاکټرانو او نورو کسانو سره د مرستي په موخه هم کوو.

زموږ د تجربیي له مخي مشکلات هغه وخت ښه اغیزمن حل کېدای شي، چي ټول ګډون کونکي هم مرسته وکړي.

ځکه موږ هغه کسان، چي له ماشومانو اوځوانانو سره سر وکار لري، یو »ګردي میز« ته راغواړو. موږ په ګډه فکرکوو، چي د مرستی او پر مختګ لپاره څه وکړو.

زموږ سلا مشوره وړیا ده. هر څوک په خپله تصمیم نیسي، چي زموږ سلا مشوره غواړي او د څو مودې لپاره استفاده ترې کوي.

### تشویش مه کوئ

سلا مشوره پر اوسېدني تاثیر نه لري. د بیلګي په توګه د پناهنده ګی موضوع پر جریان هیڅ تا ثیر نه لري.

### ستاسو په خپله ژبه

ستاسو الماني ښه نده؟ هیڅ مشکل نه شته. موږ یا ستاسو ښوونځی یو ژباړن د ژباړی لپاره راولي. دا ستاسو لپاره وړیا دی. تر هغه ښه دی، چي ستاسو خور یا ورور ستاسو تر جماتی وکړي.



## مور ځنګه کار کوو؟

لومړی موږ له ګډون کونکو سره خبري کوواو بیا د ملاقات و ختونه معلوموو.

تر څو وکولای شو، له همدي فرصت نه پوره معلومات لاس ته راوړو.

- خیني وختونه درس وکول هم ګورو،
- د اړ تیا په وخت کي له رواني تستونو نه استفاده کوو،
- له والدینو، معلمینو،ماشومانواو ځوانانو سره په (ګډه) سره خبری کوو.

### تست په دي ترتیب کوو

رواني تستونه زموږ سره مرسته کوي، د ماشوم پیاوړتیا او ستونزي په ښه توګه و پیژنو. په عادي توګه ماشوم له روانشناس ښځینه یا نارینه سره یواځي خبري کوي. په دی ترتیب یي توجه بل لوری ته نه ځي. ماشوم د حافظي کارونه کوي، لوستل، لیکل، د حساب کارونه  او پازل کوي او د ویری په اړه پوښتنو ته ځوابونه وایي.

زموږ تجربیه: ماشومان زیاتره د تست له حل نه لذت اخلي.

د نتیجو په اړه یي له مور او پلار سره خبري کوو. که والدین اجازه راکړي، معلومات له معلیمینو سره هم شریکوو. په ګډه فکر کوو، چي له ماشوم سره ځنګه مرسته وکړو.

پر دی بر سیره نور ګامونه، چي  انکشاف ور کونکي وي، توصیه کیږي. په دي ترتیب ماشوم کولای شي، د بیلګي په توګه د زده کړی له انکشاف اویا د درملني له مرستي نه ګټه پورته کړي.

# له موږ سره خبرې وکړی

لومړئ خبرې کېدای شي په لاندې د ملاقات په وختونو کي تر سره شي. د ورسته سلا مشورې لپاره د وخت اخیستل لازم دي.

**د ښوونځی سلامشورې مرکز**
**Schulpsychologische Beratungsstelle**
Klosterstraße 33, 48143 Münster
Tel. 02 51/4 92-40 81
schulpsy@stadt-muenster.de
www.schulpsychologie.muenster.de

## د ملاقات وختونه

دوشنبه – چهار شنبه له ۹ – ۱۲ و ۱۴ – ۱۶ بجو
پنجشنبه له ۹ – ۱۲ و ۱۴ – ۱۷ بجو
جمعه له ۹ – ۱۲ بجو
او له مخکنی وعدې سره سم

د ۲۰۱۸ تر اوړي وروسته:
دوشنبه – جمعه له ۸ – ۱۶ بجو





امپرېسوم
خپرونکی: Stadt Münster
د ښوونځیو، روزنې او زده کړې اداره
د مطبوعاتو اداره
Fotos: photocase.de (© 2Design), fotolia.com (© Christian Schwier, © Monkey Business, © dgrsk), shutterstock.com (© GaudiLab)
März 2018